پوهندوی دوکتور سیدحسام«مل» .

---

# د پاکستا ن بین المللی اطلاعاتی خد مات

The Pakistan Inter-Services Intelligence

( ISI )

سریزه : ما ته نن داسی یو اند یننه پیدا شو چي زه با ید د پاکستان د بین المللی اطلاعاتی خدمتونو(ISI) ددوزخی اود جهنمی سازمان یا دادراری په اړه یولړ معلوما تي څیړنی تر سره کړم اوددی ضد انسانی او ضد بشری سازمان د ځنو فعالیتونو ، اودهغه د تاریخي پس منظراودهغه دناوړی ستراتیژی په اړه خپل لاسته راوړلی معلومات دستاسو محترمو لوستونکو سره شریک کړم او د ستا سو دپوهاوی په سمندر کی یوه بله څاڅکی ور زیات کړم ترڅو زما ګران لوستونکی ددی اداری په هکله یولړ ؛ بشپړ معلومات تر لاسه کړي اوبیا په ځانګړی ډول ددی ضد انسانی اداری دکړونو او د توطیی تومار کوم چی زمونږ دګران هیواد اوزمونږ دخلکو په وړاندی ترسره کړی او اوس هم دخپلی دسیسی څخه لاس نه اخلی اوزمونږ دهیواد په داخلی چارو کی لاس وهی . په مستند بڼی سره د کارپوهانو او دمنطقی د سیاستوالو خبری ، نقل قول او دلیکونو ځنی رغنده لړلید دلته په دی لیکنه کی یاد کړم – دبلی خواڅخه غواړم چی دغه لیکنه په سیستمتیک بڼی سره دلاندنی سکیچ په نظر کی نیولو سره ګام په ګام مخی ته ویسوم تر څو چی هر ټاکلی موضوع تر دخپل ځانګړی عنوان لاندی توضیح او تفسیر شی.

---

* دلیکنی لنډ یز.

لمړی- تاریخچه
دوهم - تکلاره
دریم - جوړښت
څلورم - څانګي
پنځم - د«آی اس آي مشران »
شپږم - افسران
اوم - پوځی تمرینونه
اتم - عملیاتونه اوکړنی
نهم - چلند لار:
لسم ـ دعملیاتونو تاریخ
یولسم - شخړی اومخالتونه

دولسم ـ درسنيو ښودنه
ديارلسم ـ ياداشتونه
څوارلسم ـــنوری لوستنی
پنځلسم ـ داهم وګوری
شپاړلسم ـ  باندنی تړنی

---

## ددی ليکنی لنډ يز :

دپاکستان ډير مهم اطلاعاتی يا استخبا راتی سرويس د (ISI) سازمان دی چی د پاکستان دامنيت دساتلو د پاره د يولړ غټو عمليا تونو مسوليت پر غاړه لری او په عين وخت کی ددی سازمان مسول اولوی مدير مکلفيت لری چی ددی سازمان فعاليتونه وخت ناوخت دپاکستان لمړی وزيرته وړاندی کړی،دغه سازمان يا استخباراتی اداره دپاکستان د نورواطلاعاتی ادارو څخه [ (اسخباراتی بيرو(”Intelligence Bureau’’IB) او (نظامی استخبارات« ”Military Intelligence “MI« )]دتشکيلاتی ،وظيفوی او ددندو دلايحی په نظرکی نيولو سره له هر اړخه ډير پراخ اووسيع دي .په شلم پيړي کی ددغی اداری ددندو په لايحه کی ډير پراخ فعاليتونه د افغانی مجاهيد ينو د پياوړتيا او د هغو څخه د ملاتړ اوپه افغانستان کی په اصطلاح دکمونيستی دولت پرضد کوم چی د شوروی ا تحاد له طرفه ملا تړ کيد ل رغنده موضوع تشکيلول ، ا و وروسته بيا د ا مريکی داطلاعاتی اداره (CIA) سره په تفاهم کی د افغانی طا لبا نو څخه چی د شما ل دايتلاف سره په جګړه کی يعنی دهغه ايتلاف څخه کوم چي د (ايران اوهندوستان تر حمايی) لاندی وه پوره ملاتړ کول .

دويلويوه مهم موضوع دادی چي (ISI) په کال (۱۹۴۸) کی يعنی د هند اودپاکستان د لمړی جګړی څخه (۱۹۴۷) وروسته ددوه نورو اطلاعا تی سا زمانونو لکه د (IB) او د(MI)دځای ناستی په مفهوم ايجاد شول تر څو چی وکولای شی دپاکستان ددری ګونی نظامی قوتونود پاره لازم فعاليتونه ترسره کړي دا چی ولی نوموړی سازمان (ISI) د (IB) او (MI) دسازمانونو ځای ناسته شو د هغه سبب د نوموړی وروستی سازمانونو د دند و د نه ترسره کيدل اويا په دند و کی د پا تيوالی موضوع وه . يعنی کله چی دغه دوه اطلاعاتی اداره دماتی سره مخامخ شو نو وروسته له هغه يوه بله اداره د کارکونکو دګډی کميتي د رياست (Joint Chief of Staff commitee) تر عنوان لاندی تاسيس شو .ترڅو دغټو عملياتونو دجريان څخه هر اړخيزه څارنی وکړی ، دبلی خوا څخه بايد وويل شی چی دپاکستان داردو دارکان ريس يا دهمدی اداره جنرال دايرکتور يعنی هغه کس چی د پاکستان لمړی وزير ته دراپور ورکولو مسوليت پر غاړه لری پخپله دپاکستان دلمړی وزير له طرفه پر دغه څوکی نومول کيږی .ددغه اداره مرکز او موقيعت داسلام آباد د ښار په آسلام آباد وينو (Islamabad Venue) کی دی لمړی د ضيا الاسلم اوبيا

په (۲۰۱۲) کی د احمد شجاع پاچاتر نظارت لاندی رهبری کیدل ، ددغه اداره مجموعی ستاف کوم چی دافسرانو څخه تشکیل شوی (لس زرو کسو ) ته رسیږی هیره مونشی چی دامریکی اود فرانسی درسمی منابعو په قول یعنی د (Jean-Lauis Brugeine) آو (president Steve Coli) دنوی امریکایی فوندیشن په حواله دغه اداره یعنی د پاکستان (ISI) سربیره پردی چی د نورو افراطی ډلو ټپلو څخه ملاتړ کوی نوبیا په ځانګړی بڼی سره دتروریستی سازمان یعنی د لشکر طیبه څخه تلپاتي ملاتړ کوي .

د یا دونی بله یوه مهم موضوع چی مخکی ددی سازمان دتاریخچی په اړه یولړ معلومات ګرانو لوستونکو ته وړاندی شی لازم ګنم چی د(ISI) دداری په هکله د هندوستان د داخلی دمخکینی وزیرد(۲۰۰۱) کال دلیکنی لنډ یزپه لاندی ځو کرښو کی ، وځیړوم :

دغه دوزخی اوغولونکی ناروا ، ضد بشری سازمان یعنی(ISI) چی داکثرو افراطی ډلوټپلو څخه ملاتړ کوی یواځنی اطلاعا تی سازمان دی کوم چی اوس د القاعدی دسازمان بودجوی،تشکیلاتی ،وظیفوی اوعملیاتی اړخونه نه یواځی چی د دی سازمان دمشاورینوله خوا تنظیم کیږی بلکه علماْ اوعملاْدهغه اداری څخه ملا تړکوی ، دغه مقا له مخکی د (۹/۱۱) د پیښی د پیښید وڅخه د جنوبی اسیا د تحلیل کونکو د ګروب په سا یت کی (WWW.SAAG.org) په نشر رسیدلی وه اوهغه داچی د امریکی د متحده ایالاتو د (CIA) اداره یا سازمان هیڅکله دا ادعا نه دی کړی چی هغه سازمان د پاکستان د (ISI)دداری له لاری په افغانستان کی د خپل فعالینونو لمن د شوروی اتحاد پرضد پراخه کړی وي .

دامریکی دمتحده ایالاتود اطلاعاتی آژانس (CIA) عواقب او له افغانستان څخه دشوروی قوتونو دخارجیدو څخه وروسته دپاکستا ن رهبران یوه نوی سلاح تر لاسه کړ یعنی دتروریزم ضد سلاح ته لاس رسی پیدا کړ ، کوم چی دغه خپل نوی سلاح یی د غرب اود هندوستان پرضد پکاروپوړل، اودبلی خوا څخه هغه غړی چی د (CIA) په سازمان کی دنده ترسره کوی یوه ته هم ښکاره نه دی چي پاکستا نی رهبران د نفت او دصنعت دراکړی ورکړی تجارانو له طرفه دیو لړحا یل تروریستی فعالیتونو د ترسره کولو په منظور له د با ندی څخه استخدام شوی کوم چی په منطقه کی دنفت اودانرژی د تجارانو د ګټي دترلاسه کولو د پاره لاره آواره کړی کوم چی هغوی په منطقه کی د خپل ستراتیژیکی ګټی ترلاسه کړي اوپاکستانی رهبران دخپل فعالیتونو په مقابل کی دلالی پیسی تر لاسه کړی .همدا راز همدغه پاکستا نی دوکه باز رهبران دی کوم چی د سکانو دتحریک لاری برابرکړ چی هغوی دخالصتان تر عنوان لاندی له هند څخه خپل بیلتون او جدایی غوښتل یا داچی همدغه دوکه باز رهبران دی چی دالقاعدی دمخوف سازمان دایجاد اودتاسیس زمینه یی رابرابرکړ چی دغرب څخه غرامات تر لاسه کړی ، یعنی دغه دپاکستان رهبران دی چی تل دیولړ مخوف ،سړی وژونکی ،تروریست ،افراطی ډلو ټپلو درامینځته کیدو فعالتونه تر سره کوی او بیا مقابل لوری ته وایی چي که تاسی یومقدار پیسی مونږ ته راکړی مونږ کولای شو چی دتاسو سره پوره مرستی وکړو او تاسی ته تروریست در وسپارو لکه چی دغه لوبه لا تراوسه دامریکایانو سره دالقاعدی دغړو اودطالبانو دجنګیالو په راکړی او ورکړی سره په میلینونو ډالر تر لاسه کوي.

۱ – تاریخچه : د (۱۹۴۷) څخه وروسته کله چی پاکستان خپل آزادی په اصطلاح سره تر لاسه کړ اودهند څخه بیل شو دپاکسان دولت ددوه اطلاعاتی اواسخبا راتی ادارو په جوړولو باندی لاس پوری کړ اما کله چی دغه دوه اطلاعاتی اداری هریو («IB»Intelligence Bureue) او نظامی اسخباراتی ( Military Intelligence «MI») ونتوانیدل چی د پاکستان داردو په دری ګونو ادارو کی د پاکستان او دهند په جګړه کال (۱۹۴۷) کی خپل ورسپارل شوی دندی ترسره کړی دماتی سره مخا مخ شو چی دهغه په پا یله کی په کال (۱۹۴۸) کی د(ISI) داداری درامینځ ته راتلو زمینه برابره شو، د لته یو شی ته چی باید پام واړول شی هغه دادي چی د (IB) سابقه او تاریخچه د پاکستان دتشکیلیدو څخه وړاندی دی یعنی دغه اطلاعاتی اداروی سازمان یا (IB) مخکی له هغه چی پاکستان دیومسقل دولت په بڼه له هند څخه بیل شی دغه اداره د British India(IB) تر نامه لاندی مینځ ته راغلی وه اما کله چی دغه اداره په کال (-۱۹۴۷ ۱۰۴۸) کی دهند اود پاکستان دجمو اودکشمیر په لمړی جګړه کی ونتوانید چی خپل ماموریت په ښه شان سره مخ ته ویسی ، نوهمغه وه چی په کال (۱۹۴۸) کی د (ISI) اطلاعاتی سازمان ایجاد شوبی ویلو دی پاتي نشي چی د دغه جهنمی اطلاعاتی آژانس غړی اوکارکونکی دپاکستان داردو د دری ګونو برخو دافسرانو څخه تشکیل کیږی کوم چی د ځانګړی تخصص او د مهارتونو لرونکی دی یعنی د پاکستان د ننه او د باندی داوضاعو اود حالاتو دتحلیل اود تفسیر توان اوقدرت و لری دهغه کسانویوه کلکتیف دی .اودبلی خوا څخه دغه سازمان یا اداره خپله زیا ته پاملرنه دهند دا وضاعو او د حالاتو دتحلیل اودتفسیر په برخه کی اړوی د (ISI) داداری د مینځ راتلو اند یښنه او تفکر دښاغلی سرلښکر رابرت کاوتورن (Robert Cawthom) بریتا نوی الاصل استرالیایی زیږ د افکا رو زیږند و دی چی له هغه څخه بیا وروسته د پاکستان داردو د ارکان دریس دمعاون په هڅه اواند سره دغه سازمان خپل تکاملی پړاونه یودبل پسی ووهل او د غه اداره رامینځته شو ، (ISI) دخپل ایجاد په سر یا په اوایلو کی مسولیت نه لرل چی د پاکستان د ادارو اود احزابو د کړنو اود فعالیتونو اطلاعات په استثنا د«جمواوکشمیر» راټول کړی ، د دغه اداری اختیار او مسولیت د پاکستان د بحری قوتونو د مشر او قوما ندان ښا غلی سید محمد احسان ته ورکړ شو چی ددی سازمان د فعالیتونو لمن لاپسی پراخه کړی او د پاکستان ددری ګونو نظامی برخو څخه پوه او ماهر افسران را جلب اواستخدام کړی لکه چی ښاغلی سید محمد احسان وتوانید چی د دی سا زمان کارکونکو د پاره د د ندی لایحه تنظیم کړی اودسازمان دلا ښه فعالیتونو دسرته رسولو دپاره یوه کاریی لاربنود هم برابرکړ. بی ویلو دی پاتي نشي چي په کال (۱۹۵۰) کی سر لشکر جنرال رابرت کاوتوم د(ISI) جنرال دایرکتور ښاغلی سید محمد احسان ته د یوځانګړی راپور په لیږلو سره پوښتنه کړی وه چی د (ISI) د اداری منسوبین ددغه اداری د کړنونو په اړه له خپل ځانه څخه څه رنګ عکس العمل ښیي .

دبلی خوا څخه کله چی ایوب خان په ډ که(Daca) یعنی د پاکستان شرقی په مرکز کی دپولیسو مشر وه اوددولت دپاره داعتماد وړ سړی وه نو هغه په هغه ښارکی د (IB) داداری د فرعی اداری اطلاعاتی شعبه (SIB) سرمشریزه تر لاسه کړ تر څو چی د (ISI) دغوښتنو سره سم دهغه منطقی داخلی اطلاعات اوخبری راټول او مرکزی مقاماتو

ته وړاندی کړي .

همدارنګه د (۱۹۵۰) کال څخه وروسته له یو څه وخته کله چي جنرال ایوب خان دپاکستان واک تر لاسه کړ نو هغه د( ISI) او (MI) فعالیتونو اونقش ته وده او پراختیا ورکړ چی نوموړی سازمان باید د پاکستان په دننه کی دټولو سیاسی اوغیر سیاسی حلقو او ګوندونو کړنی اوفعالیتونه له نژدی څخه وڅاری او هم دپاکستان نظامی نقش ته لا پسی میدان ورکړ کوم چی د (ISI) اداره یا سازمان وروسته د(۱۹۶۵) کال څخه کله چي د پاکستان ټول اطلاعاتی او اسخباراتی څانګی دهند او پاکستان په جګړه کی ونتوانیدل چی د پاکستان داردو په دری ګونو برخو کی موثر فعالتونه تر سره کړی نو په همدی دلیل سره په کال (۱۹۶۹) کی (ISI) ته لا پسی وده ورکړ شو چی دخپل فعالیتونو لمن ته لا پسی پراخوالی ورکړي . دبلی خوا څخه جنرال ایوب خان په دی هڅه کی وشو چی نوموړي سازمان ته دنده وسپاری چی دخپل دفعالیتونو لمن په شرقی پاکستان کی د ننه زیاته کړی او ټول سیاسی کړی او جریانونه تر خپل نظارت لاندی راولی ، او په عین حال کی نوموړی جنرال د بلو چیا نو دآزادی غوښتونکی آوازپه وړاندی کوم چی په کال (۱۹۷۰) دبلوچستان په ایالات کی په لاریون پیل کړ ، (ISI) ته د نده وسپارل چی خپل نظارتی فعالیتونو ته نورهم پراخوالی ورکړي .

هیره مو ونشی چی جنرال ایوب خان د ( ISI) په مینځ کی په کال (۱۹۵۰) کی دهندوستان دشمال شرق دشورشیا نو ته دکمک په منظور دعملیا تونو یوه مخفی څانګه یا دیپارتمنت ایجاد کړ کوم چی د نوموړی اداری فعالیتونه د کال (۱۹۶۰) تروروستیو پوری لاپسی پراخه شو ترهغه چی په لندن کی د سکا نو غورځنګ کوم چی سرنګ سنګ پانچي تر نظر لاندی فعالیت کول دهغه غورځنګ د پاره دپراخو فعالیتونو د سرته رسولو د پاره زمینی برابر کړ چی وروسته له هغه دغه غورځنګ د جګ جیت سنګ تر مشری لاندی دخالصتان د جدایی غوښتونکی دولت د مینځ ته راتلود پاره له هندوستان څخه خپل آزادی غوښتل ، همدارنګه له هیواد څخه دباندی دسکانو زیات شمیر کوم چی په مختلفو سازمانونو کی تنظیم شوی وه ، هغوی دامریکی د متحده ایالاتو اود کانادا په مرسته اود (ISI) په لارښونه سره ټول یو موټي کړل شو کوم چي بیا وروسته هغوی دخالصتان د ډلو ټپلو سره یوځای شول .

د( ISI) اداره خپل اهمیت د ذوالفقار علی بوتو دزمامداری په وخت کی کله چی هغه په (۱۹۷۰) کی د خپل انتخا باتی کمپاین په موده کی دنوموړی اداری پر نقش اوکړونو باندی نیوکی کول دلاسه ورکړ اوپه عین وخت کی د پاکستان دداخلی سیاسیی مخالفتونو په نتیجه کي پاکستا ن په دوو برخو وویشل شو اوبنګله دیش له پاکستان څخه بیل اودیو مستقل هیواد په بڼه مینځ ته راغی .

کله چی دپاکستان داردو د ارکان ریس جنرال ضیا والحق د جولای په پنځم کال (۱۹۷۷) کی د پاکستان د قدرت په څوکی با ندی ډډه ولګول او په پاکستان کی د فیلد مارشال په حیث دهیواد اداره بخپل لاس کی قبضه کړ نو له هر څه نه مخکی نوموړی مارشال د(ISI) اداره اودهغه مسولیتونو او دندو ته پراخوالی ورکړ اومسولو مقاماتو ته هدایت ورکړ چی دپاکستان دکمونیست ګوند اود ځنی نورو نیمه مترقی ګوندونو فعالیتونه له نژدی څخه وڅاری اودهغو دفعالیتونو په مخ دخنډونو دپیدا کیدو په لټه کی دامریکی

دمتحده ایالاتو دجمهور ریس نکسن دزمامداری په وخت کی هغه وخت چي هنری کیسنجر دامنیت ملی مشاوروه دامریکی دمتحده ایالاتو اطلاعاتی (CIA) سازمان او (ISI) په ګډه سره پکار پیل کړ ترڅو چی د خالصتان د غورځنګ سره په پنجاب کی مرسته وکړی اوپه همدی وجهه په امریکی کی دسکا نو د جبش وتلی شخصیتونو سره ددسمبر په میا شت په کال (۱۹۷۱) کی مخکی د بنګله دیش دآزادی بخښونکی جنګ دپیل څخه لید نه کتنه وکړ او په شرقی پاکستان کی دهند داتهاماتو پرضد چی پاکستان دبنګال د خلکو په وړاندی د بشر حقونو څخه سرغړونه کوی د هغی د مقا بلی د پاره دبشر دخقونودمبارزی له طریقه پرهندوستان باندی هم تور ولګول شوچی هندوستان په پنجاب کی دسکانو په مقابل کی د بشر د حقونو څخه سرغړونه کوی نو دهمدی دوه ګونی پیښنو په نظر کی نیولو سره (ISI) او(CIA) په ګډه سره دامریکی د امنیت ملی دځنو افسرانو سره په ګډه یوه دامننیت ملی تر عنوان لاندی شورا ایجاد شو چی د هغه شورا رهبری داکتر هنری کیسنجر ته وسپارل شو .
ددغه شورا دواړه اړخونه (ISI) او(CIA) په ګډه سره پریکړه وکړل چی د اغلی اندرا ګاندی اعتبار اودهغه باور کوم چی دخلکو په مینځ کی لرل وځپي اوهغه بی اعتباره کړی یعنی په اصطلاح سره دهغه شخصیت په بین الملل کی ددی غلط اتهام په واردولو سره چي انداراګاندی دشوروی اتحاد دسمندری اډو دپاره په (Vizag)، (Andaman) او (Nicobar) ځایونو کی د تسهیلاتو د برابرولو ژمنه کړی ترور کړي ، همدارنګه پر انداراګاندی باندی اتهام ولګل شو چی د سکا نو د پاڅون په وخت کی کوم چی په امرتسرکی د طلای په معبد کی په کال (۱۹۸۴) ترسره شو دهغوی پرضد عملیا تونو کی دجنرال سندرجی د عملیاتونو مشا ور د (KGB) یو غړی وه ، د غه اتهامات د اندراګاندی دترور څخه وروسته چي په کال (۱۹۸۴) کی ترسره شو افشا شو چی دغه ټول اتهامات غلط او ناروا اتها ما ت وه چی یوائی دهغه دشخصیت دترور دپاره زمینه سازی کیدل .
په کال (۱۹۸۰) کی د شوروی ا تحاد جنګ په افغانستان کی د (ISI) دسازمان دفعالیتونو لړی لاپسی د(CIA) دملاتړ په وجهی سره زیات اوګړندی شو، اودافغانستان داطلاعاتو اوداسخباراتی خبرو دترلاسه کولو دپاره د(ISI) ترنظارت لاندی یوه ځانګړی اداره د (special Afghan section) تر عنوان لاندی ایجاد اودهغه اداری په راس کی ډګروال محمد یوسف وټاکل شو اوهم ددغه نو تشکیل اداری یوشمیر افسران دلوړو زده کړو دپاره امریکی ته ولیږل شو چی دامریکی دمتحده ایالاتو د (CIA) دمنسوبینو له خوا نوی استخباراتی مهارتونه تر لاسه کړی ترڅو وکولای شی چی افغا ن مجا هید ین دشوروی اتحاد سره په جنګ کی پوره لاربښونه وکړي .
په کال (۲۰۰۱)کی جنرال پرویز مشرف د (ISI) داداری دپاره جنرال احسان الحق نوی دایرکتور یا مسول مدیر وټاکل چی وروسته له هغه ،جنرال شجاع پاچا ددی اداری دریس په حیث لوړه وکړ .
دیادونی بل مهم مطلب دادی چی د (ځانګړی افغان سکشن ) د ریس او د هغه اداری دنورو مجربو غړو په هڅه اواند اود(CIA) دمتخصیصینو اوماهرانو په کمک اومشوری سره داسی پلانونه اوپروګرامونه طرح او ډیزاین شوچی دهغی له مخی افغانی مجاهدین

دروسانو سره په جګړه کی خاص عملیاتونه ترسره کول ، (ISI) او (CIA) په ګډه سره دروسانو سره په جګړه کی نه یواځی داچی افغانی مجاهیدین یی تنظیم او چمتو کړ بلکه دپاکستان سخت دریځ افراطی ډلی ټپلی اود عربو افراطی دواطلبانو ته هم بلنه ورکړ چی په افغانستان کی دروسانو پر ضد وجنګیږي ،اوسما بن لادن او شاغلی آیمل خانسی (Aimal Kansi) هغه سړی کوم چی د(CIA) دوه رسمی غړی یی د امریکی په لانلی (Langely) کی په کال (۱۹۹۳) کی وژلی وه ، رمزی یوسف (Ramzi Yosef) اودهغه ملګری ډلی کوم چی په کال (۱۹۹۳) د فبروری میاشت د نیویارک د تجارتی مرکز په انفجار کی لاس درلودل ، د فلیپین د جنوب جدایی غوښتونکی افراطی مسلمانان اودهغو رهبران اوحتی د پاکستان د مخدره موادو قاچا ق وړونکی ډلی ټپلی ټول د(ISI) اود( CIA ) اداری په ګډه همکاری سره په افغانستان کی دروسا نو پرضد را تنظیم شوی خلک وه.

د (ISI) ا ود(CIA) دګډی همکاری دپروګرام یوه بله برخه یا ځانګه دتاریاکو کرهڼه ، دهیروین تولید اود هیروین د قاچاق تشویقول وه ، (CIA) د (ISI) په مینځګړیتوب یا مرستی سره هیرون افغنستان ته قاچاقول اوبیا یی هڅه کول چی دافغانستان په دننه کی د شوروی اتحاد سرتیری په هیروین با ند ی معتاد کړی کوم چی دا پخپله په جرم کی د(CIA) ګډون دي ،اما کله چي په کال (۱۹۸۸)کی دشوروی اتحاد نظامیان اوسرتیری له افغانستان څخه پښیی سپکی کړل اووتل ، نو دغه دهیروین حرفوی قاچاقبران د(ISI) په همد ستی سره غرب ته دهیروین په قاچاق پیل وکړل اودهیروین دقاچاق څخه هغه یو مقدار زیات نقده ډالر چي ترلاسه کیدل هغه پیسی یی دپاکستان داقتصاددسقوط دمخنیوی دپاره پکار وړل اویو څه نور ډالرونه یی افغانی سرسخت افراطی ډلی ته دهغوی دتشویق اوهغو ته دسلاح په برابولو لګول او هغوی د جمو اود کشمیر جنګ ته لیږل چی په جګړه کی برخه واخلی .

پاکستان مخکی له هغه چي هندوستان دراجستان په پوکار(pokhra) دښته کی خپل لمړی هستوی ازمایښت پکار واچوی په مخفی بڼی سره دیو تدارکاتی شعبی په پرانیستلو باندي اقدام وکړ اوله دباندی څخه دنظامی هستوی تکنالوژی اومتعاقباً په پته له چین اوشمالی کوریا څخه د مزایل اود مزایل د تکنولوژی په واردولو اوپیرودلو با ندی پیل وکړ. ددغه تدارکاتی ځانګی بودجه له سعودی عربیا اوقسماً له عربی هیوادونو اولیبیا څخه اوهم دپاکستان له عادی اوانکشافی بودجی څخه تمویلید ل له یاده موباید ونه وځی چی دهیرون دقاچاق څخه لاسته راغلی پیسی دپاکستان دهستوی سلاح په جوړلو باندی په مصرف رسیدل ترهغه چي پاکستان پخپله د اتومی سلاح څیښتن شول .

کله چی (ISI) د خارجی ا طلاعاتو دراټولولو په منظوردیو آژانس په نوم پکار پیل وکړ ، دهغه دفعالیتونو لمن لاپسي داسی وده وکړ چی د نوموړی آژانس تخنیکی اود هغه د خآنګړی عملیتونوانتظام لا پسی پرمختګ وکړ .

(IB) چی د بریتانیا اود هند د (IB) یوه نمونه ګڼل کیده ، دیوی پراخ سیاسیی اورګانیزیشن په شکل پکارولویدل اودنوموړی آژآنس د جنرال دایرکتور پُست (DG) لکه دپخوا په څیر ضرور نه وه چی دپولیسو دارګان له مینځه و تاکل شی بلکه داسی پریکړه وشوچی دنوموړی آژانس جنرال دایرکتور باید د تجربه لرونکی متقاعد نظامی جنرالونو

له جملی څخه تعین شی او هم په نوموړی آژانس کی د باتجربه لرونکو نظامی جنرالانو دپاره دهغه آژانس په تشکیل کی نوی مقامات ا و ځوکی پرانیستل شی اوپه دی وجهه سره ټول متقاعد نظامی تجربه لرونکو جنرالان د پاره د خدمت زمینه مساعد کړل شی.
په دی تازه اونژدی کلونو کی د پاکستان په د ننه کی د ځنو کارپوها نو اوداند یښنی خاوندانو ته دا سوال رامینځته شوی چی د (ISI) داداری سیاست ځوک ټاکی اویا داچی ددی اداری سیا ست دچا له خواتر کنترول لاندی نیول کیږي ، دځنو اسنادو په موجودیت سره لکه دجون د (۱۶) کال (۱۹۹۷) کی د پا کستان دستری محکمی دشهادت پر بنیاد او دپاکستان دپخوانی متقاعد فیلد مارشال اصغرخان دادعا له مخی دپاکستان دخلکو گوند (PPP) د(ISI) دسیاسی شعبی یا دیپارتمنت له بانکی حساب څخه (۱۴۰) میلیون روپیه دخپل انتخاباتی کمپاین دپاره برداشت کړی دي ، اود بلی خوا څخه جنرال میرزا اسلم بیګ دپاکستان داردو دارکان ریس داسی ادعا وکړ چی (ISI) دپاکستان داردو دافسرنو له طرفه اداره کیږی یا دهغوی په خد مت کی دی کوم چی د پاکستان ددفاع د وزارت یو څانګه تشکیلوی هغه زیاتوی چی نوموړی اداره خپل را پوردپاکستان داردو ارکان ریس ته نه وړاندی کوی بلکه نوموړی اداره خپل راپور د پاکستان دفاع وزرات ته وړاندی کوی دلته لازم ګڼل کیږی چی رایاده کړو اوهغه داچي د (ISI) د غه سیاسی د بپارتمنت په کال (۱۹۷۵) دذوالفقار علی بوتو پواسطه سره رامینځته شو.
د یری پاکستا نی تحلیل کونکی د یوی پوښتنی په شکل داسی وایي چی (ISI) د دیجور(قانونی) په بڼه دپاکستان دلمړی وزیراو ددیفیکتو(بالفعل) په شکل سره د پاکستان داردو دارکان دریس پواسطه سره تر نظارت اوکنترول لاندی نیول کیږی .
نوموړی اداره (ISI) په ټلپا تی بڼی سره د نظامی جنرال په واسطه سره اداره کیږی یعنی دنوموړی اداری جنرال دایرکتور(DG) یو نظامی جنرال وی ددی اداری دایرکتور ښاغلی جنرال محمد احمد کوم چی هغه ددری نورو جنرال دایرکترانو پواسطه سره مرستی تر لاسه کوی چی عبارت دی له : دجنرال دایرکتور معاون (DDGs) چی هغه هم د جنرال دایرکتوردسیاسی د بپارتمنت د ریس(DDG) له طرفه ټاکل کیږی چی دبلی خوا څخه دوه نوری څانګی لکه دسیاسی دیپارتمنت د ریس لمړی (خارجی) څانګه یا معاون او دنوموړی اداری دوهم مرستیال یعنی ( اداری) څانګه دي ، دغه وروستی څانګه بیا دتشکیلاتو په نظر کی نیولو سره پر څو نورو څانګو ویشل کیږی چی عبارت دی له :
* مشترک اطلاعاتی اداره(JIB) چی دهغه دنده د پاکستان په د ننه او په بهر کی دسرخلاص اطلاعاتی منابعوته لاس رسی ،او دانسانی اطلاعاتی اخبارو(HUMINT) راټولول دی .
* مشترک ضد اطلاعاتی اداره (CI)، چی د پاکستان په د ننه او بهر کی د ضد اطلاعاتی خیرو اترو را ټولول دی .
* داطلاعاتی سګنالونو مشرکه اداره (JSIB) د پاکستان په دننه اوبهر کی د اړیکو اودارتباطاتو په اړین داطلاعاتو را ټولول .
* دشمال مشترک اطلاعاتی اداره (JIN) چی ددی اداری مسول یا دهغه استاذی په جمو اوکشمیر کی افغانی طالبان ،، اسلامی نهاد په شمول داساما بن لادن دالقاعدی سازمان،

حرکت المجاهدین ،، لشکر طیبه ، ال بادور د مولانا مسعود اظهرالجیش په لاهور کی دجنرال محمدعزیز یعنی دقوماندانانونهاد چی په مخفی بنی سره داسلامی اردو دایرکتور دی دنوموړی اداری تر نژدی نظارت او کنترول لاندی نیول کیږی او په عین وخت کی دغه اداره دافغانستان او دپاکستان په پولو کی دکوکنارو په کرکیلنه ، تاریاک پر هیروین باندي بدلونه او دهیرون په قاچاق کی رغنده لاس لری .

* مشترک متفرقه اطلاعاتی اداره (JIM) دغه ادراه دنړی په نورو برخو کی دعملیاتونو دتر سره کولو مسولیت پرغاړه لری. همدارنګه دغه اداره ددی مسولیت هم لری چی هستوی مخفی تدارکاتو جریان اودمزایلو تکنالوژی د مخفی کیدو دنده هم تر سره کړی

ددغه اداری مسول اومشر ښاغلی متقاعد میجر جنرال «سلطان حبیب » کوم چی هغه دمخفی تداروکاتو اودهستوی موادو دسرقت اودغلا په اړین ځان له نورو څخه په دی متمایز ګڼی چی هغه په مسکو کی له (۱۹۹۳-۱۹۹۱) پوری دپاکستان په سفارت کی دآتشی دددی په لرلو سره وتوانیدل چي په رسمی مجوز سره همزمان د مرکزی آسیا په جمهوریتونو، پولیند چکوسلواکیا اوبیا په نژدی وختونو کی دغه د مزایلو اودهستوی تکنالوژی غلا په ډیر مخفیانه بنی سره تر سره کړی اووروسته بیا هغه دغه هستوی اودمزایلو تخنیکی اونمونوی اسناد پاکستان ته و لیږی ، اوبیا په ګډه سره پاکستان اود شمالی کوریا سیانس پوهانو ددغه هستوی تکنالوژی دزده کړی درسونه یودبل سره تبادله کړی اوپه عین وخت کی دپاکستان متقاعد جنرال شفقت چیما دخپل هستوی اودمزایلو دتولید او دتکنالوژی درسونه دشمالی کوریا دسیانس پوهانو په چوپړ کی غور ځوی او په دی شان سره دشما لی کوریا سیانس پوهانو د پاکستان دهستوی سلاح په ایجاد او تاسیس کی ستر ونډه اخیستی دي . په شمالی کوریا کی دپاکستان دسفارت دریم سکرتر اودهستوی تدارکاتو مخفی مامور له (۱۹۹۶-۱۹۹۲) پوری مخکی له هغه چی سلطان حبیب له مسکو څخه ددغه اداری مشر شی هغه د(ISI) دمشر په صفت په شمال کوریا کی دنده ترسره کول اوپه شمالی کوریا کی دهستوی ګډی همکاری پروژه دمیجو جنرال شجاعت کوم چی هغه دبلوچ رژیم پوری اړ کس وه هغه د پنځه کلونو د پاره ددی هستوی تدارکاتو اودهستوی تکنالوژی دسرقت یو پیژندل شوی پاکسانی شخص وه . چی په شمالی کوریا کی دپاکستان په سفارت کی دنده تر سره کول ، کله چی کپتان چیمس (Cheema’s) په کال(۱۹۹۶)کی بیرته خپل مرکزی شعبی یا اداری ته راستون شو (ISi) داسی اطلاعیه اوخبرترلاسه کړ چی هغه یعنی جمیس سربیره پردی چي د(ISI ) اړیکی د شما لی کوریا د مزایلو اودهستوی تکنالوژی سره تینګ کړی هغه دایران اودعراق سره دهستوی تکنالوژی دمخفی تدارکا تو دمرستی له مخی یو څه مقدار نقده پیسی هم ترلاس کړکوم چی هغه نه یواځی دشمالی کوریا دمزایلواودهستوی تکنالوزی او هستوی موادودتکنالوژی لاربنود دایران اودعراق په چوپړکی وغورځول بلکه دمسکو دهستوی تکنالوژی مخفی تدارکات یی هم ایران اوعراق ته وسپارل .همدارنګه د پاکستان د (ISI) اداره ته معلوم شو چی هغه یعنی جیمس وروسته له هغه چی د شمالی کوریا اودمسکو هستوی مخفی تدارکات دایران اودعراق په چوپړ کی وغورځول هغه چین ته ولاړ اوهلته غوښتل چی پناهنده ګی ورکړی اما چینایی مقا ما ت پر هغه با ندی پوه شو اوهغه یي په جیل کی واچول.اوبیا یی بیرته (ISI) ته وسپارل، اوروسته له هغه چی

پرنومورړی باندي څه راغی اویا څه تیر شو لاتراوسه نه دی معلوم . کپتان چمیس په لمړی سر کی د پاکستان د(ISI) په ادره کی لار پیدا کړ اوبیا وروسته د غلام سرور خان دپاکستان دخلکو دګوند (PPP) په کمک سره په شمالی کوریا کی دپاکستان په سفارت کی ځا نته ماموریت پیدا کړ .

*(x) مشترک اطلاعاتی اداره کوم چی دحسابدهی اودادری دمسولیتونو نظارت پرغاړه لری .

* تکنیکی مشترک اطلاعاتی خدمات(JIT) دټولو اطلاعاتی خدماتونو دتوحید اوداطلاعاتو د اړیکو اودخیرنو دپاره دکوچنی میکانکی وسایلو د پکار اچولو مسولت پرغاړه لری .

* ځانګړی څانګه (Special Wing): دټولو اطلاعا تی اود دفاع د وزارت دمنسوبینو داطلاعاتی خد ما تو دزده کړی مسولیت پرغاړه لری .اوپه عین وخت داطلاعاتی خدماتو داداری اړیکی د بین المللی اطلاعاتی خد ما تو اود امنیتی څانګو سره د تامین د اړیکی دبرقرارولو دنده هم په غاړه لری .

د (۱۹۴۸) څخه را وروسته د (ISI) دجنرال دایرکتور اود اوردو دارکان د ریس سره د تاریخ په پړاونو کی دبیلګی په بنه دری واره دښمنی او خنجر کشی صورت نیولی دي ، لمړی ځل د بینظیر بوتو د زمامداری (۱۹۹۰-۱۹۸۸) په موده کی، کوم چی اغلی بینظیر بوټو د (ISI) دقدرت په راټیټولو کی هڅه وکړ او مسولو مقاماتو ته هدایت ورکړ شو چی ارتباطی اطلاعاتی خدمات په (ISI) کی له سره سازمان ورکړل شی او د پا کستان دپولیسو دافسرانو دنده په (IB) کی لاپسی غښتلی شي هغه یعنی بینظیر بوټو هغه سنت ته چی د (ISI) جنرال دایرکتور داردو دارکان د ریس په پیشنهاد سره ټاکل کیدل له مینځه ویوړ ، اودخپل پلار یوپخوانی دوست متقاعد جنرال سمسوررحمان کالیو یی د جنرال حمید ګل پرځای په کال (۱۹۸۹)کی وټاکل اوهغه ته هدایت ورکړ چی د(ISI) په مرسته سره دپاکستان داخلی اطلاعات راټول کړی او هم د(ISI)ملکی خد ما تو ته په (IB) کی پوره پام واړوي . ښاغلی برګیت عبدالرشید صد یقی هغه کس چی د پاکستان داردو په مطبوعاتو کی دلیکوالی دنده پرغاړه درلود ، هغه د جولای په (۳۱) کال (۱۹۹۷) کی چی دپاکستان داردو د مطبوعاتو مسولیت په کال (۱۹۷۰) درلود هغه په نیشنل ورځپانه کی یو څه ولیکل کوم چی هغه پخپل دغه لیکنی کی دپاکستان داردو د ستر درستیز قهر او غضب را وپارول اوپه نهایت کی ددی موجب وګرځید چی بینظیر بوټو داګوست په میاشت کال (۱۹۹۰) کی جنرال بیګ یی عزل کړ او هم دهغه له ګډون څخه دپاکستان دقوماندانانو په کنفرانس کی مخنیوی وشو (ISI) هغه یعنی جنرال بیګ یی دجمو اود کشمیر په جګړه کی دنظامی اطلاعاتو د دایرکتور په حیث وټاکل شو چی دپاکستان دستر درستیز تر څارنی لاندی خپل دنده تر سره کړي .

دویمی مثال یا خنجرکشی او خصومت د نواز شریف دزمامداری په اوله دوره کی ترسترګو شو :کوم چي هغه په کال (۹۳-۱۹۹۰) کی کشمیری افراطی افسریعنی جنرال جاوید نصیر یی د (ISI) دجنرال دایرکتور په حیث وټاکل ، د هغه د ټاکل کیدو په اړین داسی اندیښنه را پورته شو چی هغه د پاکستان د اردو دلوی درستیزجنرال آصف نواز حنجو په وړاندیز سره په دغه مقام کی نه دی ټاکل شوی نو په دی وجهه د پاکستان داردو دلوی درستیز په هدایت سره دپاکستان دافسرانو په کنفرانس کی د جنرال نصیر

له ګډون څخه مخنيوی وشو اوهغه يی بيرته د (ISI) ادری ته معرفی شو چی د هغه اداری له خوا نوموړی جنرال دجمو اودکشمير په جګړه او د تجزيه طلب سکا نو په غورځنګ کی درهبری مسوليت پرغاړه واخلی .

اغلی بينظير بوټو دخپلي زمامداری په دوهمه (۹۶-۱۹۹۳) دوره کی هڅه وکړ چی د ښاغلی جنرال عبدالوخيد کاکړ اودجنرال جها نګير کرامت د پاکستان د اردو ستر درستيز سره دپاکستان د(ISI) دجنرال دايرکتر دجانيشنی په اړه له هر ډول لاس وهنی او مخالفت څخه ډډه وکړي دبينظير بوټو دمسوليتونو په سلسله کی يوه مهمه برخه داوه چی هغه په افغانستان کی ديو لړ عملياتونو اودجاسوسسی کار وبار دسرته رسولو دپاره متقاعد جنرال نصرالله بابر يی وټاکل ترڅو چی هغه دافغانی طالبانو تحريک رامينځته کړی اودهغودټولو عملياتوتونو مسوليت اورهبری پرغاړه واخلي ، جنرال بابر هغه کس دی چی دبينظير بوټو دپلار په زمامداری کی د (ISI) له خوا اود (ISI ) په مستقيم لار ښونه سره په افغانستان کی دافغان ددولت پر ضد يو لړ خصمانه عملياتونه تر سره کول . هغه يعنی بينظير بوټو په اردو کی دننه هيڅ کوم ځانګه چی دافغانستان پرضد يولړ عملياتونو ترسره کړی ونه پرانيستل تر هغه چی جنرال پرويز مشرف يی دافغانستان دپاره ديولړ تخريبی عملياتونو دمسول په توګه وګمارل کوم چی هغه د جنرال نصرالله بابر سره په ګډه دافغانستان په دننه کی دافغانی طالبانو په مرسته سره د افغان دولت پر ضد په تخريبی عماياتونو لاس پوری کړل .

په هر صورت د (ISI) هغه ځانګه چی د فاروق لغاری کوم چی هغه وروسته دپاکستان دجمهوری رياست مقام ته ورسيد ډير سره نژدی اړيکی درلود، د بينظير بوټو ورور مرتضی بوټو د سپتمبرپه مياشت کال (۱۹۹۶) کی په کراچی کی دځنو محلی پوليسی افسرانو په همد ستی سره د خپل دکور څخه دباندی په قتل ورسيد ، او يو څه موده وروسته د پاکستان د ډله ايزو رسنيو په قول سره داسی څرګند شو چی د مرتضی بوټوپه قتل کی بينظير بوټو اودهغه ميړه آصف زرداری لاس لرل اوپه همدی وجهه سره لغاری ته داسی لاره آواره شو چي بينظير بوټو له قدرت اوله مقام څخه ليری کړی .

دپاکستان داردودستردرستيز او اړينومقاماتو ترمينځ دريم ځل دپاره خصومت او خنجر کشی دنواز شريف دزمامداری په دوهمه دوره ( ۹۹-۱۹۹۷)کی کله چی هغه جنرال انجينر ضياوالدين يی د(ISI) جنرال سکرتر وټاکل رامينځته شو. اما کله چی جنرال مشرف دقدرت واک ترلاسه کړ دجنرال ضياوالدين سره په مخالفت کی ، هغه له دی مقام څخه ليری اودهغه پر ځای د (آی اس آی )جنرال دايريکتر جنرال محمد عزيز مقررشو اوهغه ته ټول اختيارات پر لاس ورغی چی دهغه له مخی هغه نه يواځی داچي د (ISI) اود (DDG) دندی تر سره کول بلکه هغه ته د پاکستان د شمالی برخی اطلاعاتی دندی اودافغانستان داطلاعاتی خد ماتودروندوظايف هم ور وسپارل شو.اودغه نوی مقرر شوی د«آی اس اي» دايريکتور د پاکستان د جاسوسی ټول مزی د نظانی اطلاعاتی اداری ترسرپرستی لاندی تنظيم کړاودهغه اداری په سر کی واک پخپل لاس کی واخيست .

اوداسی با ور کيدل چی د پاکستان د شمالی برخی د اطلاعاتی موضوعاتو د ندی هم په دوامدار بنی د نظا می اطلاعاتی اداری تر څارنی لاندی وروسته د نواز شريف د نسکوريدو څخه داکتوبر په (۱۲) کال (۱۹۹۹) کی او يا حتی وروسته چی د«آی اس

آی» جنرال دایرکتور جنرال محمد احمد وټاکل شو ترسره کیدل. هغه وخت چی جنرال مشرف دپاکستان واک تر لاسه کړ هغه دپاکستان داردو ستردرستیز چی ښاغلی جنرال ضیاوالدین وه له دندی څخه سبک دوش کړ او هغه ته اجازه ورنکړ چی د عا لی رتبه نظامیانو په کنفرانس کی ګډون وکړی بلکه مشرف هدایت ورکړ چی ضیاوالدین دی له صحنی څخه بیخی لیری کړی اوهمدغسی یی هم وکړ او د کارګل د جنګ دعملیاتونو د سرته رسولو دپاره پلان جوړ کړ ، نواز شریف د کارګل د جګړی څخه وروسته ، جنرال ضیاوالدین یی په مخفی بڼی سره واشنګټن ته ولیږل چی د کلنټون داداری دمسولو مقاماتو سره وګوری اودجنرال مشرف د تمایلاتو په اړین د هغه دولت مسولین ته لازمی یادونی وکړی ، هغه یعنی جنرال ضیاوالدین کله چې له واشنګټن څخه بیرته ستون شو هغه قندهار ته ولیږل شو چی د نواز شریف خبری ملا محمد عمر ته ورسوی اوله هغه څخه وغواړی چی د پاکستان دشیعه سپاه صاحبه مخالفینو سره خپل کمکونه ودروی اودنوموړی سازمان پر ضد له هر دول دښمنی څخه لاس واخلي اوهم دی ته حاضر شی چی دامریکی سره په عملیات کی چی بن لادن باید ونیول شی کمک وکړی ،کله چی پرویز مشرف له دی موضوع څخه خبر شو خپل استاذی جنرال عزیز قندهار ته ولیږل چی ملا محمد عمر د طالبانو امیرته د هغه پیغام ورسوی اوهغه داچی تاسی د جنرال ضیاوالدین خبری ته هیڅ پام مه اړوی اوهغه څه چی ما خپل استاذی جنرال عزیز ته ویلی دی هغه واوری اوپرهغه باندی عمل وکړی .

له دی مثالونو اوبیلګو څخه داسي راڅرګندیږی چی دانتخابی لیدرشف سره سره کوم چی هغه لاتراوسه دقدرت په چوکی ډیه لګولی ، دپاکستان داردو ستر درستیز پخپل رڼو سترګو ګوری چی موظف انتخابی لمړی وزیر پر (آی اس آي» باندی هیڅ تسلط اوکنترول نه لری اوهر هغه څوک چی ددی لمړی وزیر پلوی کوی هغه حاشیی ته ټیل وهل کیږی .

هغو چی غوښتل له قانون څخه څارنه وکړی اویا غوښتل چی دپاکستان دنیشنلیستی اودمذهبی ګروپونو او عناصرو فعالیتونه کم کړی اویا دسیاسی ګوندونو هڅی کمه کړی دپاکستان داردو له طرفه و نه منل کیده اویا پاکستانی نظامیانو نه غواړی چی هغه ومنی بلکه د«آی اس آی » رغنده پالیسی همغه دانګریز دزوړ استعمار پالیسی دی چي« خلک وویشه او بیا پری حکومت وکوه » ، په ایران کی په کال «۱۹۷۹» کی وروسته داسلامی انقلاب څخه پاکستانی لوړپوړی هڅه وکړ چی پاکستانی شیعه ګان تر خپل کلک کنترول لاندی راولی ، اوهمدغه پاکستا نی لوړ پوړی په نه ستړی کیدونکی بڼه دشیعه ګانو پرضد د افراطی سنی مذهبو مسلمانانو سازمان د سپاهی سحابه (sipah Sahba) په نامه جوړ کړ اوکله چی په ګلګیت کی په کال (۱۹۸۸) کی دهغه ځای شیعه مذهب پاکستانی مسلمانان بغاوت وکړ، په دی وخت کی ښاغلی جنرال مشرف دبن لادن ، اوله شمال ولویدیز قبایلی سیمو څخه دهغه دقبایلی سخت دریزو انډیوالانو او دقبایلی دتحریک طالبانو په مټ دشیعه ګانو پاڅون یی په ډیر بی رحمی سره له مینځه ویوړل او هغو له سره نیست اونابود کړ. کله چي دمهاجر قومی غورځنګ(MQM چی اوس متحد قومی غورځنګ نومیږی) دالطاف حسین په سرکردګی سره یولړ خوزښتونه او قیامونه په کال (۱۹۸۰) کی په کراچي ، حیدر آباد ، اودسند په سکور(Sukkur) کی رامینځته

شو ، په سند کی دپاکستان د «آي اس آي» د ځانګی نیشنلیست عناصر د مهاجر قومی غورځنګ ډیر زیات غړی ووژل ، کوم چی دهمدی پیښی په پا یله کی د اوتر پردیش (Utter pradesh) په ایالات کی دالطاف حسین په مهاجر قومی غورځګ کی انشعاف مینځ ته راغی ، چی ددی انشعاف په یوه اړخ کی الطاف حسین اودانشعاف په بل اړخ کی دبیهار دخلکو استاذی حقوقی (Haquiqi) د مها جرقومی غورځګ په نوم خپل تشکل رامینځته کړ ، دپاکستان استخباراتی شبکه یعنی (آی اس آي ) داوترا پردیش په حوزه کی ونشو کړلی چی دالطاف حسین په مهاجر قومی غورځګ پارتی کی شیعه ګان له سونیانو څخه بیل کړی .

دپاکستان ددولت هلی ځلی کوم چی غوښتل چی دپاکستان دخلکو ګوند (PPP) دبینظیر بوټو په بند ساتلو کی کمزوره کړی د ماتی سره مخامخ شو او هغه داچی دالطاف حسین مهاجرقومی غورځنګ خلک دسند دایالات دنیشنلیستانو سره متحد شول ، په دی وخت کی ښاغلی پرویز مشرف د«آی اس آي » په مینځ کی یوه ځانګړی پټ یا مخفی اداره یا ځانګی د جنرال محمد احمد په مشری پرانیستل چی ددی جنرال تر مشری لاندی په دی مخفی اداره کی دغه لاندنی لوړ پوړی چاروکی غړیتوب درلود : د «آی اس آی » جنرال دایریکتور ، متقاعد جنرال محی الدین حیدر، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ، جنرال مظفر عثمانی دپاکستان داردو دلوی درستیز مرستیال . دغه مخفی اداره ته دنده ورسپارل شوی وه چی دالطاف حسین دمهاجر قومی غورځنګ د سندی نیشنلیستا نو او د پا کستان دخلکو دګوند ترمینځ اتحاد مات کړی اودړی وړی کړی .

دغه مخفی اداره یا دکار اوددندی قوت نه داچی یواځي سیاسی مذهبی نهادونه لکه قاضی حسین احمد جمیعت اسلامی «JEI» ، جمیعت علمای اسلامی «JUI» د مولانا فضل الرحمان په مشری وهڅول بلکه ځنی نور سکتاریست ډلی ټپلی لکه سازمان سپاه سحابه ، د ریاض بصره «لشکر – ای- جنګاوی» کوم چی دطالبانو اودبن لادن تر چتر لاندی دافغانستان په دننه یعنی قندهارکی ژوند کول هغو ته دنده وروسپارل شو چي خپل فعالیتونه تر سند ایالت پوري وغځوی .

دغه پورتنی ذکر شوی سازمانونه په عملی توګه سره د«آی اس آی » له نظارت اوکنترول څخه په هیڅ بڼی سره دباندی نه دی ، یعنی چی دوی په واقیعت کی سره مستقل سازمانونه نه دي !!! دغه ذکر شوی سازمانونه یا جهادی تنظیمونه په عوض ددی چی دپاکستان دخلکو پر ګوند باندی ودانګی یا هغه له پښو څخه وغورځوی ټول له یوسره جنرال پرویز مشرف حضور ته راوړل شو چی هغه ته ګونده ووهی اوتسلیم شی کوم چي جنرال مشرف هم دهغو دمنلو څخه خپل هیله اوامید داسی په ډاګه کړ چی هغوی باید دسند په حوزه کی د شیعه ګانو پرضد جهاد وکړی نو ددی هدف درسیدو دپاره دسند دکلو اودبانډو بیکار اوبی روزګار ځوانان یی د خدمت د پاره د طالبانو سره بسیج او په کار یی وګمارل ، د سند د ایالت خلکو کوم چي په سنتی لحاظ سره زغم لرونکی متصوف او مذهبی خلک دی د مشرف تر څارنی اوقیادت لاندی دواک اود قدرت دبیا ترلاسه کولو دپاره دجمیعت الاسلامی اودجمیت العلما پلویان دسند کوڅو او لارو ته ووتل کوم چی په کال (۱۹۸۰) کی دپاکستان دخلکو د ګوند ، د مهاجر قومی غورځنګ او د سند د ناسونا لیستا نو له خوا شړل شوی وه ، نو هغوی په دی تازه

وختونو کی اوبیا په ځانګړی ډول په ګلګیت (Gilgit ) کی په کال( 1988) چی دمشرف له خوایی ملاتړ کیدل دشیعه ګانو په قتل عام باندی لاس پوری کړل ، یعنی په همدی وخت کی له (۲۰۰) څخه زیات شیعه ګان په ډزو سره له پښو وغورځول شول ، په شمول د(۳۰) ډاکتران ،په کراچی کی اوداسی ډیر نورلوی او وړی ډلی ټپلی په سند کی د مشرف په هدایت سره په قتل ورسید ل ، سربیره پر هغه باندی دپاکستان دنفت اود پطرولو دایرکتور اومدیر ، همدارنګه سید ظفر حسین سعیدی د دفاع په وزارت کی دلابراتوارونو محقق په کراچی کی په «۲۸ او ۳۰ دجولای» کال «۲۰۰۱» په قتل ورسید چی دهغوی دقتل اودوژلو مسولیت لشکرجنګاوی په غاړه واخیستل .

د تفرقه واچوه او بیا حکومت وکړه د پا لیسی په دوام سره ، سند د «آی اس آی» اودمشرف ترڅارنی اورهبری لاندی کوم چی په پاکستان کی داول ځل دپاره سکتاریستی شخړیز عناصر دسنی مذهبو اوبیا په ځانګړی بڼه دسنی مذهب دیوبندیانو دسپاه سحابه اودلشکر – ای- طیبه پوری تړلی اوهم د ډیر زغم لرونکی بارلبی (Barelvi) طریقی خلک په سنی تحریک پوری تړلی کوم چی دهغوی سازمان په کال ( ۱۹۹۰) کی مینځ ته راغی ، هغه خلک دی چی دوهابی تبلیغا تو پرضد په پاکستان کی په مبارزه لاس پوری کړل،اوهمدارنګه په کال (۱۹۹۸) کی دپیرافضل قادری له مارارین(Mararian ) شریف څخه په ګوجرات او پنجاب کی یوه بله ډ له دعا لم تنظیم اهل سنت ( Almi Tanzeem Ahle Sunnat) تر نا مه لاندی تشکیل شو چی په لاهور کی د جنرال محمد عزیز تر رهبری لاندی وهڅول شو چی ددیوبندی نظامیانو پر ضد جهاد وکړی.

دغه نوی تشکیل شوی تنظیم نه یواځی داچی دپاکستان پراسلامی اردو باندی له دی نه چی دوهابیت زهر دپاکستان د ټولنی په رګونو کی ترزیقوی په نیوکی پیل وکړ بلکه پر مشرف باندی هم له انتقاد کولو ډډه ونکړ کوم چی مشرف هغه سنی ځوانان ګمراهی ته ټیل ووهل یعنی هغوی دهند سره په مخالفت جهاد ته وهڅول اووغوښتل چی دجمو اوکشمیر جګړی ته ولیږی اودپاکستان دستراتیژی دلاسته راوړلو دپاره هغوی قربانی کړی ، اودبلی خوا څخه دپاکستان د «ای اس آي » اداره له دی نه چی ددی نوی تشکیل شوی تنظیم څخه ډاریده نو سمدلاسه په دی هڅه کی ولوید چی ددی نوی تنظیم دفعالیتونو په وړاندی « سپاه سحابه» او «لشکر –ای - طیبه » یی تحریک کړ ترڅو چی ددغه تنظیم دفعالیتونو مخه ونیسی .

دپاکستان داستخباراتی شبکی (آی اس آی ) دغه اقدام د سند په ایا لت کی ددی سبب شو چی د راپاڅید لی سنی ګروپ خلکو اود پاکستان دنظامیانو ترمینځ اخو ډب پیل شی کوم چی دهغه په ترڅ کی مولانا سلیم قادری د سنی تحریک سازمان پوری تړلی دخپل پنځه نورو انډیوالانو سره په کراچی کی د می دمیاشتی په (۱۸) کال (۲۰۰۱۹ ) کی دسپاه سحابه دډلودټوپکو په ډزو سره له پښو وغورځی اوله دی نړی څخه سترګی پټی کړي . سپاه سحابه په هغه ورځوکی دڅو ورځو دپاره د کراچی په کنج او کنار کی ګډوډی رامینځته کړی وه اود پاکستا ن نظامیا نو ځان غلی اوبی طرف نیولی وه چی دا پخپله دهغوی ترمینځ داړیکی نښی اونښانی دی .

مشرف ، داسی باور درلود ، چي کوماندویان په دی بشپړ یقین لری چی هغو دهدف دترلاسه کولو دپاره څه دمخالفینو په وهلو ټکولو اویا دهغو مشرانو ته دبډی په ورکولو

سره هدف تر لاسه کوی بی له دی چی هغوی ته کوم تشویش یا ناخوالی پیداشی ، اما دمشرف تشویش په دی کی نه چی هغه څرنګه کولای شی چي په سند کی د پاکستان دخلکو ګوند ، مهاجر قومی غورځنګ او سندی ناسیو نالستان کمزوره کړی ، اما هغه بیاهم داسی انګیرل چی «آی اس آی » به په هغه حوزه کی داسی دوحشت اود ډار اداره یا فرانکشتاین ( Frankenstein دهغه ناول یا داستان نوم دی کوم چی د لمړی ځل د پاره د انګلیسی مری شیلی لیکوال پواسطه سره ولیکل شو اوهغه داچی په دی ناول کی دهغه یوه جاه طلب ځوان کارپوه داستان دی چی هغه د مړو اندامونه یود بل په اړخ اوځنګ کی ایږدی اودهغه څخه یو هیولا مانند معمول انسان جوړوی چی د هغه په لیدو سره دهرکتونکی په اندامونه کی لرزه او ډار را پیدا کیږی کوم چی دهغه جوړونکی هم له ډیر ډار اووحشت څخه له صحنی څخه تښتی ... داوکی پیدا څخه مترجم ) جوړ کړی کوم چی یوه ورځ به دسند خلکو طالبانیزم په لوری لاړ شی یعنی هغه خلک چی په سنتی لحاظ صوفیزم زغم لرونکی اودعدم تشدد پیروان دی اودهند سره ټینګ علایق اویکدلی لری ، دهغو دغه فرهنګ دخاوری سره خاوری کړی .
وروسته له هغه ښاغلی مشرف د باکستان داردو دیوشمیر مجربو نظامیا نو تر فشار لاندی راغی چي باید پر سپاه سحا به او لشکر –ای – طیبه باندی فشار واچوی اوپه یولړ اقداماتو لاس پوری کړی ، مشرف اوجنرال حیدر په ظاهری بڼه د یو لړ اقداماتو دنیول تیاری وکړ چی با ید یو څه اقدام وکړی اما په عین وخت کی دی ته هم سترګی په لاره وه چي ایا دوی په ریښتیا سره غواړی چی هغه دوه سازمان ( سپاه سحابه او لشکر –ای – جنګاوی ) تر فشار لاندی پریوزی اویا له فشار څخه آزاد شی اویا داچی ا یا دهغوی اقدامات به دهغو دفعالیتونو په بندولو کی څه اغیزه به وکړی ؟
د هند وستان په دننه کی دځنوکړیو اوحلقو سره دا اند بیننه او نظر راپیدا شوی چی د «آی اس آي » دفعالیتونو پر مخ د خنډ کید و یواځنی لار دادی چي مونږ باید دنظامی دفاعی اطلاعاتی آژانس په وړاند یز سره یوه ډ یر مخفی اطلاعاتی اداره کوم چی په بشپړ تخنیکی وسا یلو مهجز وی او وروسته د پاکستان د اطلاعاتی اداری او دمتحده ایالاتو ددفاعی اطلاعاتی (DIA) اویا د بریتانیا د مخفی اطلاعاتو (DIS)د ټولولو داداری دنمونی په څیرورته وی د لته په هند کی مینځته راولو چی د «ای اس آی » داداری ټول مخفی اقدامات څخه څه دجګړی په وخت اویا هم څه د یولړ مخفی فعالیتونو دسرته رسولو په موده کی اطلاع تر لاسه کړو او هغه بیا شنډ او خنثی کړو .
په یوه دیموکراتیک بریا لی یا مخکی تللی ټولنه کی دعامه خلکو د ونډی اخیستو اصولو ته نه داچی درنا وی کیږی بلکه هغه ته لمړیتوب ورکول کیږی حال داچی دغه منل شوی اصول په پا کستان کی نه داچی مراعات نه کیږی بلکه له سره له نظره غورځول شوی اوداصولو ددغی نه مراعات کولو تخم په دغه موجوده دولت کی پا شید لی او په یوه عادی او معمولی فرهنګ با ندي بدله شوی دی . زمونږ تشو یش د«آی اس آي » په وړاندی دچټک نتایجو دلاسته راوړو په اړه دادی چي مونږ نه با ید دیورتنی اصولو د ازمایش دپاره زمان اووخت دلاسه ورکړو چی په یوه د موکراتیک ټولنه کی اطلاعاتی آژانس خپل د ندی په څه شان سره مخ ته وړی .
په کال (۱۹۷۰) کی هندی سیاستوالو په عاقلانه بڼی سره داسی پریکړه وکړل چی

دهندوستان اطلاعاتی څانګه نه یا ید دکاذب تکنالوژیکی تدارکاتوکی پوری ځان کلک کړی کوم چی که چیری دداسی کاذب تدارکاتوسره چی دهندوستان دعلمی او تکنالوژیکی اعتباراتو ته صدمه او ضرر ورسوی اوپه نړی کی د نورو تولنو په نظر کی هندوستان لکه د پاکستان په څیر په یو دروغجن هیواد وپیژندل شی باید دده کوی .
لکه چی ټول ماهران اود سیاست خاوندان پوره پوهیږی چي په پاکستان کی ددروغ او د جعل سیا ست اوس دهغو په ورځنی عادت اوفرهنګ بدل شوی .له بلی خوا څخه شاید چی تا سی له ما سره په دی موافق ا وسی او هغه دا چی ځنی اطلاعاتی (intelligence) ټولنی ځنی وختونه ځنی ځا نګړی تکنالوژیکی وسایل له نورو هیوادونو څخه د خپل اطلاعاتی زیرمو او غنی د پاره په سرقت وړی یا یی پټوي ، اما په پا کستان کی کله چی ددی هیواد (post graduate) محصلین ، څیړونکو ، اوساینس پوهانو دداسی پرمخ تللی تکنالوژیکی وسایلودتوضیحاتو او تشریحاتو اویا دهغه دپوره پیژند نی سره مخامخ کیږی نو نظر دخپل خراب لمړنی اوثانوی زده کړی له امله دغربی هیوادونو دغه تکنالوژی ته په شک اوبد ګمانی سره ګوری اوپه همدی بنیاد سره هغوی ته ډیر ستونزمن ښکاری چي خپل لوړ تحصیلات دنړی په نامی پوهنتونونو کی ترسره کړی یا ددی استعداد ولری چی په تحقیقی او څیړنز و لابراتوارونو او څیړنیزو مراکزو کی فعا له ونډه واخلی لکه هغسی چی مخکی یی اخیستل ، دپاکستا نیانو دپا ره بله غټه ستونزه دادی چی دهغدی محصیلینو سره په سیالی کی ددی توان نه لری چی اوسنی عصری تکنالوژی په چټکی سره زده کړی اوپر هغه با ندی لاس بری پیداکړی ، اودا ځکه چی له ډیر پخوا څخه را هیسی پاکستان له علم او پوهی څخه خدای پاما نی کړی اوپه جعل اودرواغو سره ورځی لندوی .

یاداشت د«آی اس آي » پراستخباراتی سازمان باندی له سره په لنډ ډول کتنه

: **آی ایس آی** د پاکستان د خارګرې اداري نوم دی. چې همدا نوم پخپله یو انګرېزي نوم دی او د انټر سرویس انټېلېجېنس (Inter-Service Intellegence) لنډون دی، چې په پښتو ژبه یې ژباړه، **د خپلمنځي خدماتو استخبارات**، ده. دغه خارګره اداره د پاکستان تر ټولو پیاوړې او لویه استخباراتي اداره ده. دا د پاکستان د درې استخباراتي څانګو څخه یوه اهمه اداره ده.

په ۱۹۴۷ کال کې د هند او پاکستان تر منځ جګړه کې د پاکستان د پوځي استخباراتو د ناکامه کارکردګی وروسته، د پاکستان حکومت د یوه بېلې استخباراتي اداري اړتیا احساس کړه. نو په همدې تکل سره په ۱۹۴۸ کال کې د آی ایس آی استخباراتي اداره د یوه خپلواکه واحد په توګه د انټېلېجېنس بیرو یا پخوانی استخباراتي څانګې نه رامېنځ ته شوه. د انټېلېجنس بیرو دنده د پوځ د بېلابېلو کړیو سره د مالوماتو ګډول او د باندې نه د مالوماتو او استخباراتو راټولو وه. په پیل کې د دغې اداري مرکز په راولپینډی کې وه چې بیا وروسته یې مرکز د پاکستان په نوې جوړې شوې پلازمېنې اسلام آباد ته ولېږدېده. د آی ایس آی د دم مهال مشر ډګر جنرال ندیم تاج دی. آی ایس آی چې ډېرځل په پاکستاني سیاست او د نړی په بې شمېره پېښو کې یوه ناشکېل پټه قوه ګڼل کېږي، د نن ورځې یو تر ټولو اهمه پټه استخباراتي اداره ده چې په فعاله توګه خپلې دندې پرمخ بیایي.

پاکستان له خپل پيدايښت وروسته په کال ۱۹۴۷ کې دوې ځارګرې ادارې جوړې کړې چې لمړۍ يې د نظامي استخبارات او دوهمه هغه يې د تحقيقاتو رياست په نامه ونومولې . د هند او پاکستان سره په جګړه کې چې کله د نظامي استخباراتو ستره ناکامي څرګنده شوه، نو پاکستان هوډ وکړ چې يوه بله ځارګره اداره جوړه کړي . په دې ډول انګرېز تورن جنرال آر کوتون چې دی په خپله په استراليال کې زېږېدلی خو د انګرېزانو په نظامي ځواکونو او په هغه مهال کې يې د پاکستان په نظامي ځواکونو کې دنده درلوده، په کال ۱۹۴۸ کې يوه نوې ځارګره اداره د آی اېس آی تر نامه لاندې جوړه کړه . که څه هم چې په لمړې سر کې د دغې ځارګرې ادارې دنده د ملک د ننه د مالوماتو راټولول نه وه - پرته له آزاد کشمير او پښتونخوا - خو دغه رول هغه وخت بدل شو چې ايواب خان ولسمشر شو .

کله چې نظامي اسخبارات او د تحقيقاتو ادراه هم په دوهمه هندې او پاکستاني جګړه کې په کال ۱۹۶۵ کې د مالومات په راټولو کې ناکامه شولې، نو ايوب خان آی اېس آی په دې وګوماره چې هم د ملک د ننه او هم په بهر کې د مالوماتو د راټولونې دنده پر غاړه واخلي . ايوب خان همدارنګه آی اېس آيس ته دا دنده وسپارله چې د ملک د ننه سياستوال هم وڅاري . کله چې زولفقار علي بوټو واک لاس ته کړ، نو ورسره آی اېس آی هم خپله اړتيا او وړتيا له لاسه ورکړه . ځکه چې بوټو د آی اېس آی په لوبو ډېر شکمن وو . ده دا انګېرله چې ګواکې د ټولټاکنو په بهير کې آې اېس آی ناوړه لوبې وکړې . زولفقار په دې اند وو چې آی اېس آی دا هاندو هڅې کولې چې يو نظامي حکومت پر واک پاتې شي . کله چې دی له واکه ولوېد، او جنرال ضياالحق واک تر لاسه کړ، آی اېس آی بيا راژوندی شو او د پوره واک او خپل سرۍ ستونځ ته ورسېد . په همدې حال کې وو چې روسانو هم پر افغانستان يرغل وکړ .

د امريکا ځارګرې ادارې سي آی اې له وخته ګټه پورته کړه او آی اېس آی ته يې دنده ورکړه چې د روسانو پر وړاندې افغان مجاهېدين سمبال کړي . د دغه موخې لپاره يې يوه څانګه د ډګروال محمد يوسف تر بولۍ لاندې جوړه کړه چې يوازې او يوازې د افغانستان څارنه وکړي . نو د دې لپاره سي آی اې (CIA) د پاکستان د آی اېس آی ډېر کارمن په امريکا کې وروزل چې هغوی په خپل وار بيا په پاکستان کې افغان مجاهېدين روزل او خپل پټ عمليات يې د روسانو، افغان حکومت او ان هغو مجاهېدينو او روڼ اندانو چې په ربښتيا سره يې د وطن مينه او غم درلود، پر وړاندې سرته رسول . د امريکايي ليکوال ستيو کول په وينا چې په خپل کتاب "د پېريانو جګړه " کې يې ليکلې وو چې ضياالحق د آی اېس آی مشر اختر عبدالرحمن ته او وروسته حميد ګل ته وويل چې په افغانستان کې داسې اور بل کړې چې يوازې اوبه په ځوښ راولي، خو چې تر چاينکې راتوېې نه شي .

آی اېس آی له خپل جوړښته راپه دېخوا د نړۍ له ډېرو استخباراتي ادارو سره ټېنګې اړيکې لري چې د يادولو وړ يې (CIA)سي آی اې، د انګلستان (MI6)اېم آی شپږ او د اسرايئلو (MOSSAD) موساد دی . که څه هم چې آی اېس آی د ډېرو نورو استخباراتي ادارو، د ملګرو ملتونو ډېرو ادارو او همدارانګه د ډېرو خبري رسنيو په لاسوندونو يوه ترهګره اداره ده.

## تګلاره

د آی اېس آی رسمي موخې په لاندې ډول دي:

1. د ملي امنیت ټینګښت او د ملک د ننه او په بهر کې د پاکستان د ګټو خوندیتوب
2. په ګاونډیو ملکونو، په تېره افغانستان او هند کې د سیاسي او نظامي خوځښتونو او بهیرونو څارنه چې د پاکستان په ملي امنیت او د دوی په بهرنۍ پالیسي یا تګلاره باندې پوره پوره اغېزه لرلای شي .
3. له درې نورو نظامي څواکونو، اردو، بهري او هوايي څواکونو سره همکاري
4. په خپلو نظامي کادرونو او پرسونلو څارنه . په همدې ډول د خبري رسنیو، بهرنیو دپلوماتانو او خپلو هغو چې د ملک د ننه او همدارنګه په بهر کې په دنده بوخت دي، او همدارنګه په پاکستاني ټولنه او د هغوی په .اوښتون څارنه .

# جوړښت

د آی ایس آی مرکزیت په اسلام آباد کې دی او د آی ایس آی مشر د ډایرکټر جنرال په نامه یادېږي، چې د آی ایس آی مشر د پاکستان یوه پوځي دنده یا د ډګر جنرالۍ دنده هم لري. د ډایرکټر جنرال نه راښکته بیا د ډایرکټر جنرال درې مرستیال جنرالان د واک پر پوړیو ناست دي او د همدغو مرستیالانو دنده دا ده چې ډګر جنرال ته وخت پر وخت راساً راپورونه ورکړي، د ډګر جنرال د همدغو درې مرستیالانو بله دنده دا ده چې هغوی د آی ایس آی د درې ډګرونو پاژوالان یا مسؤلین هم دي. د آی ایس آی په مېنځ کې همدا درې ډګرونه د سیاست ډګر، د باندنیو چارو ډګر او عامه چارو ډګر په نامه یادېږي.

د آی ایس آی عام مستخدمین ډېری د پولیس، نیمه پوځي قوې او د پاکستان د پوځ د څانګړي واحدونو لکه د اس اس جي کمانډو نه جوړ شوي. د آی ایس آی د کاري قوې څانګړتیا هېڅکله په عامه توګه د خلکو په مېنځ کې نه ده څرګنده شوې خو کارپوهان یې د کار ورتیا او کچه اټکل کړې، چې کچه یې نژدې ۲۵۰۰۰ ته رسېږي. ددې ترڅنګ آی ایس آی له ۳۰۰۰۰ نه ډېر مخبرین او شتمنۍ لري.

آی ایس آی په ګڼو څانګو وېشل شوی، او د دغې څارګرې ادارې هره څانګه څان ته خپلې دندې لري چې د دغو ټولو څانګو یوه موخه ده او هغه دا چې په هر حال کې د پاکستان د ګټو ساتنه ده.

### څانګې

د آی ایس آی څانګې په لاندې ډول دي:

1. Joint Intelligence X (جیکس)
   - دغه څانګه د نورو ټولو څانګو د سمون او تنظیم دنده پر غاړه لري. کله چې نورې ټولې څانګې مالومات راټول کړي، وروسته یې د چاپ لپاره دغې څانګې ته استوي، چې راپور ترې ولیکي.
2. Joint Intelligence Bureau (جیب)
   - دغه څانګه د آی ایس آی تر ټولو لویه او څواکمنه څانګه ده چې آر دنده یې د سیاسي ګوندونو څارل دي. دغه څانګه درې نورې ورې څانګې هم لري چې په هند کې د پټو عملیاتو، د ترهګرۍ پر ضد جګړه او همدارنګه د ډېرو مهمو شخصیتونو د امنیت دنده پر غاړه لري.
3. Joint Counter Intelligence Bureau (جي سي ان بي)

- دغه څانګه د هغو مالوماتو چان پر غاړه لري چې د پاکستاني ډپلوماتانو له خوا په بهر ملکونو کې راټول شوي وي. دغه څانګه ډېر څارګر په افغانستان، چين، هند، مرکزي آسيا او منځني ختيځ کې لري . داسې ګومان هم کېږي، چې په اروپا او سهېلي امريکا او افريقا کې يې د خپلو کړو وړو لمن ډېره غزولې وي.

4. (جين) Joint Intelligence North
   - دغه څانګه په جمو او کشمير کې ډېره کارنده ونډه لري، په ځانګړې توګه د کترول له ليکو سره چې هند او کشمير يې سره جلا کړي .
5. (جيم) Joint Intelligence Miscellaneous
   - دغه څانګه په نورو ملکو کې د ورانکاری دنده پر غاړه لري .
6. (جي اس آی بي) Joint Signal Intelligence Bureau
   - په دغه څانګه کې چې د رييس تر څنګ درې مرستيالان هم په کار بوخت دي، د غليم او يا هم د نورو ملکونو د جاوسوسانو د څارنې او پلټنې، د دوی د پانګې او همدارانګه د دوښمن د نظامي توکيو او ځواکونو د څرک اېستنې دنده پر غاړه لري .
7. ( جيټ) Joint Intelligence Technical
   - دغه څانګه د څارنې وسايل، وسلې، او چاودېدونکې توکې برابروي . د ډېرو په ګومان دغه څانګه يوه د کيمياوي وسلو کارخونه هم لري٠

## د آی اېس آی مشران

1. ډګرمن رياض حسين.[1] ١٩۵٩ - ١٩۶۶
2. ډګرمن (پخوا ستر جنرال) محمد اکبر خان.[2] ١٩۶۶ - ١٩٧١
3. ستر جنرال (پخوا ډګر جنرال) غلام جيلاني خان. 1971 - 1978
4. ستر جنرال محمد رياض خان. ١٩٧٨ - ١٩٨٠
5. 
6. بريد جنرال (تقاعد) شمس الرحمن کالو. مى ١٩٨٩ - اګسټ ١٩٩٠
7. بريد جنرال اسد دراني. اګسټ ١٩٩٠ - مارچ ١٩٩٢
8. بريد جنرال جاويد ناصر. مارچ ١٩٩٢ - مى ١٩٩٣
9. بريد جنرال جاويد اشرف قاضي. مى ١٩٩٣ - ١٩٩۵
10. ستر جنرال (پخوا ډګر جنرال) نسيم رانا. ١٩٩۵ - اکتوبر ١٩٩٨
11. بريد جنرال ضياالدين بټ . اکتوبر ١٩٩٨ - اکتوبر ١٩٩٩
12. بريد جنرال محمود احمد. اکتوبر ١٩٩٩ - اکتوبر ٢٠٠١

13. برید جنرال احسان الحق. اکتوبر ۲۰۰۱ - اکتوبر ۲۰۰۴
14. برید جنرال اشفاق پرویز کیاني. اکتوبر ۲۰۰۴ - اکتوبر ۲۰۰۷
15. برید جنرال ندیم تاج. اکتوبر ۲۰۰۷ - اکتوبر ۲۰۰۸
16. برید جنرال احمد شجاع پاشا. اکتوبر ۲۰۰۸– اوسمهال



ایوب خان

## افسران

### د اجنټانو ګمارنه

د آی اېس آی سره یوځای کېدل او په همدې اداره کې دندې ترسره کولو لپاره هم عام ښاریان او هم د پوځي قوې غړي کولای شي ځانونه په دندو وګوماري. خو د عامو ښاریانو لپاره د ګمارنې خبرتیا خپرېږي او په ګډه توګه د عامه خدماتو فیډرالي کمیسون یا (Federal Public Services Commission) لخوا اداره کېږي او د آی اېس آی ښاري اجنټانو ته د دفاع د وزارت د کارکوونکو په توګه کتل کېږي. د عامه خدماتو فېډرالي کمیسون بیا د بېلابېلو آزموینو د اخیستلو سره، د روانو چارو په اړه مالومات، د انګرېزي ژبې او بېلابېل شننیزو وړتیاو له مخې د کاندید کس آزموینه هم اخلي. په همدې توګه د نتیجې له مخې، د کاندید کسانو شمېره د عامه خدماتو فېډرالي کمیسون لخوا

راټیټېږي او په ټولو کاندیدو کې ټاکل شوي کسان آی ایس آی ته لېږل کېږي. آی ایس آی بیا د همدغو غوره کسانو مخینه راسپړي. تر دې وروسته د ټاکل شوي کاندیدانو ته د مرکې بلنه ورکول کېږي او همدا مرکه بیا د یوې کمیټې لخوا ترسره کېږي چې هغه کمیټه د عامه خدماتو فیډرالي کمیسون او د آی ایس آی رسمي کارکوونکي نه جوړه وي.

هغه نوماندان چې د ګومارنې مرکې کې بریالي کېږي بیا د جسمي پیاوړتیا د تمرینونو، روغتیایي حالت او ساپوهنیزې ارزونې د پړاو نه باید تېر شي. کله چې نوماندان د دغو ارزونو او آزمېښتونو نه تېر شي، د نوؤ نوماندانو د ګمارنې لپاره لومړی آی ایس آی د دغو نوماندانو د مخینې او پسمنظر یوه بشپړه کتنه ترسره کوي او بیا یې د آی ایس آی سره د یوځای کېدو لپاره غوره کوي. وروسته له دې چې نوماندان د آی ایس آی لپاره د دندې وړاندیزونه ومني بیا د هغوی په اړه د امنیتي اندېښنو سپیناوی کېږي. تر دې وروسته ګمارونکي اجنټان د آی ایس آی ښوونځي ته لاړ مومي چې بیا هلته هغوی ته بنسټیزه تمرینونه ورکول کېږي او تر دې وروسته همدا اجنټان د یوه کال آزمېښتي مودې لپاره په کار ګمارېږي. که څه هم چې د دغې خارګرې ادارې ښاري فعاله اجنټانو ته د مېجر تر رتبې پورته هم انډوله رتبه او اجازه نشته او اکثراً یې د جېکس (JIX)، جیب (JIB) او جې سي آی بي (JCIB) څانګو او نورو ډیپارټمنټونو کې په دندو ګمارل کېږي، چې د دغو ټولو سرمشریزه یې د پوځي قواؤ په لاس کې وي، خو داسې ډېرې لږې پېښې دي چې عام وګړي هم په دغو ډیپارټمنټونو کې په دندو ګمارل شوي.

هغو نظامی افسرانو یا رزمی قوتونو کوم چی غواړی دپاکستان د «آی اس آی » په اداره یا سازمان کی دنده تر لاسه کړی یاشامل شی ، نو هغه کله چی د اطلاعاتو یا د (intelligency) له ښونځی څخه فارغ اوداطلاعاتی کورس یا دوره یی سرته ورسول نو وروسته ، هغه دنوموړی سازمان اداری ته اویا ددایریکتوریت په دی نیت چی د «ای اس آي » په نظامی ، هوایی ، اویا بحری څانګی کی دنده ترلاسه کړی دخپل دشمولیت یو عرض پاڼه وړاندی کوی . وروسته له هغه نوموړی عارض دځو مودی دپاره انتظار باسی ترڅو چی دهغه بیوګرافی اودهغه اجرات په هغه ټاکلی موده کی چی هغه ترسره کړی ارزیابی شی اوبیا دهغی د پاره په ګذری بڼی سره یوه دنده پیدا اوهغه په هغه نوموړی دنده کی ګمارل کیږی او یو څو موده وروسته د هغه اجراټ اوکړنی تر پلټنی او بررسی لاندی نیول کیږی ، نو که چیری د هغه اجرا ت او کړنی د «اي اس آی » دټاکلی میعارونو سره برابر اودمنلو وړ وی ، نو هغه بیا د «اي اس آي » په یوه برخه کی د اوږدی مودی دپاره په کار او دنده ګمارل کیږي ،
د «آي اس آي » تجربه لرونکی او داوږدی مودی افسران د میجر یا دهغه څخه لوړ رتبه لرونکی ته د(آی اس آي) له خوا یواځي له دوو نه تر تر دری کالو پوری وخت دی چی دهغوی اجرات اوکړنی تر څیړنی لاندی ونیسی چی ایا هغوی دخپل موقف څخه ناوړی ګټه پورته کړی او یا نه ؟ تقریباْ د(ای اس آي ) ټول جنرال دایریکتوران هیڅکله په (آی اس آي) کی په دنده نه ګمارل کیږی ترڅو چی مخکی له هغه څخه ،هغه د نظامی قوماندانیتله خوا دعه دندی ته نومول شوی نه وی ، همدارنګه د (آی اس آي ) اده مخکینی ، اوسنی اومتقاعد نظامی افسران کوم چی په (اي اس آي ) دندی ترسره کوی له هر نطقی نظره دهغو کړنه ،څارنه ،نظارت او برسی کیږی اویا دهغوی حاص موقفونه د (آي اس آي ) دکلاسیک اوسنتی میعارونو په نظر کی نیولو سره څیړل کیږي .

پوځی تمرینونه : د «آی اس آي » دنوی استخدام شوی افسر دعمومی زده کړی روش په وقایوی بنی سره مخکی له مخکی دهغه دمورال ، وطنپرستی ، با ورونه ، دینی اومذهبی موقف سره پیل کیږی یعنی هغه له هر پلوه څیړل کیږی چی ایا دهغه دغه اعتقادات او معیا رونه په هغه دنده کی چي دی کمارل کیږی برابری لری او یا که نه ؟ په دغه مقد مه پړاوکی هغه ته چانس ورکول کیږی چی دجاسوسی اود مخبری په نړیوال واقعی یا ریښتنی کورنی کی شامل شی او د هغه په مورد کی یو څه معلومات تر لاسه کړی اوهم که چیری ددغه ډول د ندی سره توافق ونه لری یعنی د جاسوسی اود مخبری څخه کرکه ولری با ید استخدام کونکی اداری ته بربنډ اوڅرګند شی . څکه چی مخبری او جاسوسی دزده کړی اود معلوماتو دلاسته راوړلویوه ځانګړی طبقه بندی شوی زده کړی یا آموزش دی ، چی دهغه پرخاصو تخنیکی وسایلو او الاتو باندی معلومات تر لاسه کړی ،. اود نورو جاسوسی ادارو او سازمانونو لکه د ( AW and R) ، (KGB)، (CIA) کړن لاری باندی معلومات تر لاسه کړي اوهم دځپل زده کړی په موده کی دا معلومات هم تر لاسه کړی چی کومه جاسوسی اداره دهغه دسازمان سره دوست یا دښمن دی اوهم دځپل هیواد پر با ند نی پالیسی با ندی پوره معلومات تر لاسه کړی ، کله چی دنوموړی ددندی تاکلی لمړی پړاو تر سره شو ، وروسته بیا هغه دزیا تی معلوماتو د لاسته راوړلو په منظور د(اي اس آي ) داستخباراتی سازمان دلوړو زده کړو کورس ته معرفی کیږی چی له شپږو میاشتو څخه بیا تر یوکال پوری هلته زده کړه وکړی . استخدام کونکی اداره هغه ته دلمړی لاس تجربی ور زده کوی کوم چی څنی مخفی عملیاتونه ، اطلاعاتی لاسته راوړنه او ..... دی . دشپی له خوا د ځانګړی حالاتو په نظر کی نیولو سره په عملیاتونو کی هغه ته داسی لاربښونه کیږی چی هغه باید له نیولو( capture) ، خارجولو(exfiltration) او انفلتریت (infiltration) کولو څخه ډډه وکړی اوهغه څه چی هغه ته ښودل شوی یا تتدریس شوی دهمغه په راهنمایی سره مخ ته لاړشی ، همدارنګه هغه باید واقعات یا پیښی له نژدی څخه له سره وګوری ، او په تحقیقاتو یا پوښتنو کی دهغه چا سره چی یي مخه دی ډیر دقیق اوسی اود جاسوسی یا اطلاعاتی ماموریت دسرته رسولو دپاره هغه ځانګړی مهارتونه باید په کار ویسی چی په تجریوی بنی سره تر لاسه کړی ، د ساحی دترینینګ د دوری په پای کی هغه یعنی استخدام کړ شوی افسر بیرته د لوړو زده کړو د پاره د (آی اس آي ) دافسرانو کورس ته معرفی کیږی ترڅو چی هغه خپل تیر درسونه اوزده کړی له سره صیقل اویا تکرار احسن کړی ، په یاد موباید وی چي دغه استخدام شوی افسر مخکی له دایمی استخدام څخه په ساحه دعملیات کی ورته داسی لاربښونه شوی چی د خپل ځان ددفاع د پاره د جاسوسی اطلاعاتو له وسا یلو اوتکتیکونه څخه باید څه ډول ګټه پورته کړی اویا څرنګه هغه وسایل پکار ویسي ، همدارنګه هغه ته لاربښونه شوی چی په

نورو اړینو برخوکی لکه  په ادره ، مدیرت  اونورو دسپلینونو کی څه ډول کړنی ترسره کړی کوم چی هغه ته تتدریس شوی دی ،. اوس نو دغه افسر یا د(آی اس اي) جاسوس په دی قادر دی چی هغه دخپل سفارت سره په اړیکی کی څرنګه فعالیتونه دخپل اداری په ګټه ترسره کړی .

دلاسته راغلو معلوماتو توحید :  له هرڅه نه مخکی لمړنی لاسته راغلی ارقام او اطلاعاتی معلومات  وروسته له کتګوری یا طبقبندی کولو څخه اسلام آباد د(اي اس اي ) مرکز ته لیږل  کیږی  چی هلته د  ماهرانو اواحصا یوی  اطلاعاتی  کارپوها نو  له خوا رالیږل شوی معلومات په انترنیټ کی توحید کړ شی .

متجاوز اوتیری کونکی استخبارات :  په یوه منطقه یا ساحه یا تر هدف لاندی  محل کی  د(آی اس آی ) لمړنی ماموریت  یرغل ، خرابکاری  ، روانی جګړه  اود جاسوسی اطلاعاتو را ټول دی  په شمول ددی چی د دشمن په موقیعت  یا تم  ځای  کی  شورش ، اوخرابکاری ته لمن و وهی  یعنی چی آرامه وضع نارامه کړی .

اسخباراتی ضد عملیات :  د (اي اس ای )  په  تشکیل  کی   یوه  ځا نګړی  اداره  یا دیپارتمنت وجود لری کوم چي د دښمن داستخباراتوداطلاعاتو  پرضد ځانګړی ماموریت ترسره کوی  یعنی دا اسخباراتو ضد استخبارات   کوم  چی د دښمن  په وړاندی له بشپړ بی پروایی څخه  داچی ښه دی اویا که بد  کاراخیستل کیږی  اوددی  اداری ځا نګی  او دهغو مامورین او کارمندان  زیاتر دګاونډیو هیوادو په پولو کی په دندو او خرابکاریو بخت دی .

دنوروڅارګرو اداروسره ملګرتیا :  د  پاکستا ن  استخبا راتی  شبکه  (آی اس آی ) دیوشمیر نوروهیوادونودمخفی او جاسوسی یا اطلاعاتی ادارو اوسازمانونو سره پټ  اویا ښکاره  ګډ همکاری اوملګرتیا لری  لکه د  سعودی عرب داطلاعاتی سازمان ، داسرایلو د  موساد (Mossad دچین داطلاعاتی سرویس  دامریکی دمتحده ایالاتو د (سی آی ای ) سره کوم چی همدغه سازمان دپاکستان  د(ای اس آی )  په   مرسته  سره  افغانستان  ته ددولت دمخا لفینو د پاره جنګی مهمات اواسلحی لیږل .

ډیپلوماتیک پلاوی: په یوه دښمن هېواد کې د ډيپلوماټيکو چارو په مرسته د آی اېس آی د پټو مرکزونو لپاره د خوښې خوندي چاپېريال چې اکثراً په سفارتونو او قونسلونو کې وي، برابرول.

ګڼ ولسيز تنظیمونه: د آی اېس آی فعاله غړي په ګڼ ولسيزو/ګڼ توکميزو اورګانونو کې ډېر ښه پټېدلای شي. غېردولتي اورګانونه او کلتوري غونډې او پروګرامونه هم د آی اېس آی د کړنو او فعاليتونو د خوندي ساتلو مشهوره ځايونه دي.

**رسنۍ:** په نړیوالو رسنيزو مرکزونو کې د آی اېس آی د فعالو غړو نفوذ او د آزاده حرکت او فعالیت لارې چارې برابرول.

**د درېيمې نړۍ چالونه:** آی اېس آی په فعاله توګه د درېمې نړۍ په هېوادونو کې د مالوماتو په ترلاسه کولو او خپل عملي کار پرمخ بېولو کې کامیابه پاتې شوی چې په دغو هېوادونو کې افغانستان، نیپال، برطانیه، بنګله دېش، سریلانکا، ایران، ترکیه او چین راځي.

## د(آئې اس آي ) عملیاتونه او لاس وهنی په نورو هیوادونوکی :

## په افغانستان کي :

دوام لري